# غېر جمهوري حرکت بازۍ

د ۲۳ مـۍ پـه اخبـارونو کښـې د کراچـۍ د صورتحال نه د پيدا شوي قياسونو په رڼا کښې چې کوم اهم خبر خور شوے دے، په هغې کښې وايي چې د شفاف انتخابي فهرستونو په وخت د تکميل په مرحله کښې ايم کيو ايم د خنډ جوړېدو سبب شوېده، په پينځۀ کالمي خبر کښې وئيلي شوي دي چې د ايم کيو ايم په زېر اثر علاقو کښې د نادرا ډېټابېس مطابق د ووټونو اندراج ونۀ شو، يا متاثر کړے شو. د خپلې مرضۍ د اندراج دپاره د اليکشن کمېشن عملې ته دړکې ورکول داباديۍ دپاره په مخصوص کوډبلاک کښې د ۷۰ فيصد پورې د اضافې فرمايش کولے شو.

اليکشن کمېشن د عدالتي حکم عدولۍ نه د بچ کېدو دپاره د کراچۍ په غېر تصديق شوو ووټونو بنا فهرست ته حتمي شکل ورکوو خو لکه چې ور يې نۀ کړے شو، د ايم کيو ايم ترجمان د دې خبرې ترديد کړے دے او دا الزامات يې بې بنياده ګرځولي دي، هغوي وايي د ووټونو د اندراج په عمل کښې يا د مردم شمارۍ د عملې سره چرې هم مونږ کار نۀ دے لرلے.

بېشکه ترديد د ايم کيو ايم يو جمهوري حق دے، خو پښتانۀ متل کوي چې دروغژن دې دروغ وايي او رښتيني دې يې قياس وباسي، ايم کيو ايم په غېر جمهوري دورونوکې چې کومې غلا غلطۍ کړې دي، د هغې د سمولو وخت چې راځي نو دوي يو دغسې عمل کښې رکاوټونه واچوي، په دې کښې شک نشته چې ايم کيو ايم په کراچۍ د پيپلز پارټۍ يو ضرورت دے، د اتحاد نه په تلو او راتلو کښې او په مکمل بلېک ملنګ کښې د هغوي پوزيشن هغه نۀ دے پاتې، خو بيا هم هغوي د دې ادراک لري، چې مونږ اوس هم د پيپلز پارټۍ ضرورت يو او تر اخره به يو.

تر اوسه کۀ چرته هم د بلدياتو اليکشن نه دے شوے نو د ټولو نه لوئے رکاوټ هم دغه ايم کيو ايم په دې لار کښې پاتې شوے دے او د دې دپاره پيپلز پارټي باقاعده بلېک مېل کړې ده.

ځکه چې د هغوي ضرورت په هر حال کښې اليکشن ګټل او په حکومت کښې پاتې کېدل دي، کۀ داسې نۀ وي نو هلته چې په خلقو کښې هغوي د کوم مصنوعي طاقت دپاره کومه نفسياتي کرکرونده کړې ده، د دغې اثاثې نۀ خلاصېږي، ځکه نو د هغوي هر ممکن کوشش تل دا پاتې شوے دے، چې هم په دغسې دړکو کار وباسي او غواړي چې د خپلې خوښې اضافي اندراج وکړي.

هغوي د خپل وجود برقرار ساتلو دپاره د دغې اک يوې لارې ادراک کړے دے او د هغې دپاره د مکمل منصوبه بندۍ توان هم لري، نو کۀ کله معامله شفافيت ته رسي نو يقين نۀ کوم چې د هغوي موجود پوزيشن برقرار پاتې شي او د هغوي د دې دپاره د ډېرو افشنونو ګنجايش موجود دے، چې دا لوبې دهغوي د ټول سياسي تاريخ اهمې برخې وي هم او دي هم.

په دې ملک کښې يو غم نۀ دے غېر جمهوري حکومتونو پکښې د قسماقسم غمونو لښکر پېدا کړي دي، چې کوم خوا ګورې هم دغسې د غم يو نۀ يو لښکر به دې په نظر راځي. متل دے چې:

لر ګوره بر ګوره- د بړ......لښکر ګوره

او د پښتو ټپه ده، چې:

د مينې يو لولګے عالم دے

د ببلتانۀ سره د شام پورې پوځونه